ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ڈاکٹر مظہر احمد**

اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی

**پاغندہ مختیار**

ریسرچ آفیسر، پشتو اکیڈمی، پشاور یونیورسٹی

**ڈاکٹر شیر زمان سیماب**

اسسٹنٹ پروفیسر، پشتو اکیڈمی، پشاور یونیورسٹی

# د علي اکبر سیال په شاعری د ۹/۱۱ اثرات

**Dr.Mazhar Ahmad**
Assistant Professor at Pashto Department University of Malakand.
**Paghunda Mukhtiar**
Investigative Research Officer, Pashto Academy University of Peshawar
**Dr. Sher Zaman Seemab**
Assistant Professor, Pashto Academy University of Peshawar.

***Corresponding Author:**

# Effects of 9/11 on Ali Akbar Siyal's Poetry

**ABSTRACT**
The incident of 9/11 had a profound effect on almost all the major languages of Pakistan, even the literature created in English in Pakistan and the English literature as a whole, as this incident is directly related to the politics, literature, history and geography of Pashtuns. Therefore, its reflection is very clear in Pashto language compared to other languages of Pakistan. The most important Pashto poet in relation to the impact of the Afghan war and specifically 9/11 is Ali Akbar Siyal. The main theme of Sial's Pashto poetry is hatred of war and terrorism and love of peace and tranquility. This article examines the impact of 9/11 on Ali Akbar Siyal's poetry.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

ماخذ تحقیقی مجلہ

**Key Words:** *9/11 incident, Ali Akbar Siyal Pashto poetry, reflection of peace.*

ادب په مجموعي توګه او شاعري په خصوصي توګه د ټولنيزو اثراتو ترجماني کوي ۔ ژوندے ادب او شاعري هم هغه وي چې د خپل وخت د سماجي پېښو هنداره وي ۔ د ۹/۱۱ واقعه يوه داسې حادثه ده چې د موجوده عصر د تاريخ، ثقافت او ادب ټول حالات به ئې ترجماني کوي او بيا د موجوده عصر په شاعرئ خو د دغه واقعې داسې اثرات دي چې د تاريخ برخه به جوړيږي او همېشه به پرې بحثونه کېږي ۔

په پښتو شاعرئ د ۹/۱۱ د اثراتو د مختلفو زاويو نه جائزه اخستلے کېدے شي ۔ په دې جائزه کښې د پښتنو د مختلفو سېمو د شاعرانو ردعمل هم پېش کېدے شي او د مختلفو شعري صنفونو په تناظر کښې هم ددې واقعې د اثراتو جائزه اخستلے کېدے شي ۔ په شاعرئ ددې واقعې د اثراتو په حقله ښاغلي ډاکټر حنيف خليل صېب د پښتو نظم او غزل د مختلفو سېمو د شاعرانو په حواله يوه مجموعي رائې ورکړې ده چې په دې ډول ده ۔

"شاعری میں 9/11 کے واقعے کے اثرات نظم، غزل اور دیگر منظوم اصناف میں دکھائے گئے ہیں مگر یہ اثرات بنیادی طور پر پشتو نظم کا بنیادی موضوع بن گئے ہیں۔ پشتون خطے کے اکثر و بیشتر شعراء نے ان اثرات کے تناظر میں نظمیں لکھی ہیں البتہ پشتو غزل میں ان اثرات کا وہ عکس نظر نہیں آتا جو پشتو نظم میں آتا ہے۔ اس کی بنیادی وجہ یہی ہے کہ نظم میں براہ راست اور تسلسل سے ایک موضوع پر نہایت موثر ابلاغ کے ساتھ اظہار خیال کیا جا سکتا ہے اور غزل کا پیرایہ جیسے پہلے بھی کہا گیا ہے کہ ردیف، قافیہ، بحر و وزن، ادبی تلازمات، تشبیہ و استعارہ اور دیگر فنی لوازمات کا متقاضی ہوتا ہے جو کسی بھی موضوع یا اظہار خیال کرتے وقت ابلاغ کو بہت متاثر کرتا ہے۔ ویسے بھی غزل عمومی طور پر رومان اور تخیل کے اثرات، کا جمالیاتی اظہار ہے، اس لئے سماجی، سیاسی، رزمیہ اور حماسی قسم کے مسائل کے

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

ماخذ تحقیقی مجلہ

ابلاغ کیلئے نظم ہی مناسب پیرایۂ اظہار ہو سکتا ہے۔ یہی وجہ ہے کہ 11/9 کے واقعہ سے جنم لینے والے اثرات کا عکس پشتو نظم میں تو بہت نمایاں اور بھرپور ہے مگر غزل میں کہیں کہیں کچھ ابیات ایسے مل جاتے ہیں جن میں ان اثرات کا عکس پیش کیا گیا ہو"۔[۱]

په دغه تناظر کښې مونږ هڅه کوؤ چې د اکبر سیال په پښتو شاعرۍ د ۹/۱۱ د واقعې د اثراتو جائزه د نظم په تناظر کښې واخلو چې دغسې مونږ ته یو مجموعي خاکه را مخې ته شي چې دې واقعې نه زېږېدلي واقعات د اکبر سیال د پښتو نظم برخه څنګه جوړه شوې ده او په کومه طریقه دې غېر معمولي واقعې د سیال نظم متاثره ـ

هر کله چې دا واقعه په ۱۱ ستمبر ۲۰۰۱ء کښې پېښه شوې ده ځکه نو ددې دور نه وړاندې نظمونه زمونږ د بحث نه خارج دي ـ دلته به مونږ صرف په هغه نظمونو تبصره کوؤ کوم چې د ۱۱ ستمبر ۲۰۰۱ء نه پس مخې ته راغلي دي او د دې عظیمې حادثې په تاثر کښې لیکلي شوي دي ـ په دې بنیاد د ۹/۱۱ د اثراتو نمائنده نظمونه عمومًا زمونږ د ځوان کُهول د شاعرۍ برخه جوړه شوې ده ، دا رائې ښاغلي ډاکټر حنیف خلیل صېب هم په خپله مقاله کښې څرګنده کړې ده او لیکلي ئې دي ـ

"پشتو میں اس واقعہ کے اثرات اکثر و بیشتر نوجوان شعراء نے منعکس کئے ہیں مگر ساتھ ہی کچھ سینئر شعراء کی غزلوں میں بھی اس کا انعکاس نظر آتا ہے۔ اس سلسلے میں ہم 11/9 کے اثرات کو دو نمایاں حصوں میں تقسیم کر سکتے ہیں۔ ایک وہ حصہ جس میں شاعروں نے براہ راست اسامہ بن لادن، طالبان، امریکہ اور اس واقعہ سے پیدا ہونے والے حالات و واقعات کی تصویر کشی کی ہے۔ دوسرا حصہ وہ ہے جس میں شعراء نے براہ راست تو ذکر نہیں کیا مگر اس واقعہ کے تاثر میں انسانی حقوق کی پامالی، انتشار و بے چینی، دہشت گردی اور انسانی مظالم کا نقشہ کھینچا ہے"۔[۲]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32



دلته یو وضاحت بل هم ضروري دے او هغه دا چې د ۹/۱۱ د واقعې نه د شاعرانو یوه طبقه نېغ په نېغه متاثره شوې ده ــ دغه طبقه د داسې سیمو سره تعلق لري چې نېغ په نېغه د هغو ستونزو، بدامنۍ، شر او انتشار ښکار شوي دي کومې چې د نیټو او امریکې فوځونو په زد کښې راغلي دي او یوه طبقه داسې هم ده چې نېغ په نېغه خو د دغه شر او انتشار ښکار شوي نهٔ دي ولې بلاواسطه اثراتو نه ئې بیا هم بچ نهٔ دي پاتې ــ هم دغه وجه ده چې د پښتو په نظمونو کښې هم د دغه حادثې اثرات په دوؤ شکلونو څرګند شوي دي ــ یو شکل ئې دادے چې شاعرانو نېغ په نېغه د القاعده، طالبانو، نیټو او امریکې خبره کړې ده او دغه کشمکش نه زېږدلي اثرات ئې د خپلو نظمونو موضوع ګرځولې ده او دویم شکل ئې دادے چې شاعرانو په مجموعي توګه او په علامتي انداز کښې د شر او فساد مخالفت کړے دے او د امن، سلامتۍ او ورورولۍ آرزو ئې څرګنده کړې ده ــ دغه دواړه اثرات په حقیقت کښې د ۹/۱۱ د حادثې اثرات دي چې د پښتو نظم مزاج او موضوعات ئې بدل کړي دي ــ په دغه پس منظر کښې مونږ د پښتو په نظم په مجموعي توګه د ۹/۱۱ د واقعې د اثراتو جائزه اخلو ــ

په پښتو شاعرۍ خو په مجموعي توګه د ۹/۱۱ اثرات په هر صورت ډېر ژور دي خو په شاعرۍ کښې هم دغه اثرات په پښتو نظم کښې ډېر په واضح ډول په نظر راځي ــ

ښاغلي ډاکټر پرویز مهجورصېب په خپله یوه مقاله "پشتو نظم پر ۹/۱۱ کے اثرات" کښې هغه نخښې څرګندې کړې دي چې د ۹/۱۱ د واقعې نه پس د پښتو نظم ته ئې یو نوے رُخ ورکړے دے او د پښتو نظم موضوعاتي زاویه ئې بدله کړې ده ــ ښاغلي مقاله نګار ورومبے خو د ۹/۱۱ نه وړاندې د افغانستان او پښتنو سیمو جنګي صورتِ حال ته اشاره کړې ده او بیا ئې د ۹/۱۱ نه پس صورتِ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

ماخذ تحقیقی مجلہ

حال ته اشاره کړي ده چې د پښتو په نظم ئې ژور اثرات مرتب کړي دي ـ ښاغلے ډاکټر مهجور صېب دې لړ کښې لیکي !

"لیکن 11/9 کے سانحہ کے بے جا انتقام سے ظلم کی اور ایک روایت نے جنم لیا۔ اس انتقام نے افغانستان کے علاوہ پاکستان کے پشتون علاقہ پر اپنے پنجے گاڑ دیئے اور رفتہ رفتہ سارے پاکستان کو اپنے لپیٹ میں لے لیا۔

انتقام کا یہ دوسرا مرحلہ جسے درپردہ صلیبی جنگ کہا جارہا ہے۔ خطرناک اور دورس نتائج کا حامل ہے۔ وہی دو تہذیبوں کی جنگ ہے۔ وہی پتھر کے زمانے والی بات ہے جو اس تباہی کا محرک ہے۔ قتل عام کے ساتھ ساتھ ہمیں اقتصادی طور پر نیست و نابوت کیا جارہا ہے۔ ہماری معاشرتی اقدار کو تباہ کیا جارہا ہے۔ ہمارے ثقافتی ورثے کو ملیامیٹ کیا جارہا ہے۔ پشتونوں کے جرگہ سسٹم کو بے اعتبار بنا کے رکھ دیا گیا۔ ہمارے جرگوں کے مشران کو قتل و ذبح کیا جارہا ہے۔ ہماری مسجدوں اور مزاروں کو اڑایا جارہا ہے۔ اور یہ سب کچھ ایک ایسی ساحرانہ سیاست سے ہو رہا ہے جن میں ہمارے اپنے رہبر خود ہمیں تباہی کے راستوں پر لے جارہے ہیں۔

ان حالات کا ہمارے معاشرے پر کافی برا اثر پڑھ رہا ہے۔ ہم نفسیاتی طور پر ایک عجیب کشمکش میں مبتلا ہیں اور ذہنی بیماریوں کا شکار ہو رہے ہیں۔ ان حالات کا اثر پشتو ادب پر بھی براہ راست پڑھ رہا ہے اور ہر صنف میں اسکا رونا رویا جارہا ہے۔

دې لړ کښې چې کوم شاعر د خپلو ګڼو شعري مجموعو او خپلې شاعرۍ بنیادي موضوع د ۹/۱۱ نه زېږدلي واقعات ګرځولي دي هغه علي اکبر سیال دے ـ ددې موضوع د اهمیت په نظر کښې ساتلو سره د ښاغلي اکبر سیال د شاعرانه اهمیت په حقله ښاغلے ډاکټر حنیف خلیل صېب لیکلي دي چې !

"مجموعی طور پر افغان جنگ اور خصوصی طور پر 11/9 کے اثرات کے حوالے سے سب سے اہم شاعر علی اکبر سیال ہے۔ سیال کی شاعری کا بنیادی موضوع جنگ و دہشت گردی سے نفرت اور امن و سکون سے محبت ہے۔ ان کے کئی مجموعے شائع ہو چکے ہیں۔ جن میں

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

ماخذ تحقیقی مجلّہ

کوئی بھی مجموعہ اس موضوع پر مشتمل شاعری سے خالی نہیں ہے۔ ستمبر ۲۰۱۱ء سے پہلے کے مجموعوں میں انہوں نے مجموعی طور پر خطے میں انتشار کا نقشہ کھینچا ہے اور 9/11 کے بعد اس واقعہ سے پیدا ہونے والے اثرات کے بعد کے مجموعوں میں سمویا ہے۔ سیال کے مجموعوں کا نام ہی اس موضوع سے متعلقہ ہیں۔ مثال کے طور پر "په جنګ دې اور اولګي" (جنگ کو آگ لگے) اکتوبر ۲۰۱۰ء میں "دا پرهرونه به ګنډل غواړي" (ان زخموں کو سینا پڑے گا) ستمبر ۲۰۰۰ء "اوښکې اوښکې مسکيتوب" (سسکیوں بھری مسکراہٹ) ۲۰۰۸ء اور "زمونږ په کلي کښې شر مۀ جوړ وئ" (میرے دیس میں فساد نہ پھیلائیں) ۲۰۰۹ء ان مجموعوں میں آخری مجموعے کو 9/11 کو حوالے سے سب سے زیادہ اہمیت حاصل ہے، ان مجموعہ میں علی اکبر سیال نے اپنی سرزمین کو اس گلوبل ویلج کا ایک حصہ سمجھتے ہوئے کہا ہے کہ ہماری سرزمین میں جنگ و فساد نہ پھیلایا جائے، اپنی تمام تر شاعری میں انہوں نے نظم میں کھل کر اس موضوع پر اظہار خیال کیا ہے مگر ساتھ ہی ان گنت غزلوں میں بھی ان اثرات کا عکس پیش کیا ہے"۔[۳]

د ښاغلي سيال شعري مجموعه "دا پرهرونه به ګنډل غواړي" په کال ۲۰۰۵ء کښې چاپ شوې ده ـ ددې مجموعې د "تړون" د الفاظو نه د سيال د شعري موضوعاتو او د ۹/۱۱ نه زېږدلو حالاتو د نسبت وضاحت کېږي ـ د تړون الفاظ ئې دا دي ـ

"د جنګ زپلي افغانستان د تعمېرنو
او دهغه ګوندونو، قوتونو، ملتونو
او افرادو په نوم
څوک چې د دغه ويجاړ شوي
او تاله شوي وطن د اولس
د دوباره ودانۍ، امن او ترقۍ
د پاره کاركوي "ـ[٤]

د دغې موضوع سره د سيال د شاعرانه نسبت او قربت وضاحت ددې مجموعې مقدمه نګار ښاغلي سعيد ګوهر هم کړے دے چې په دې توګه دے ـ

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

"په دې کښې شک نشته چې اکبر سیال د خپلې خاورې او قام سره بې کچه مینه لري، په هغهٔ وطن د جنت نه هم زیات ګران دے، په دې حواله چې هغهٔ کوم اشعار لیکلي دي، هغه د هغهٔ د کېفیاتو او احساساتو په زړهٔ پورې اظهار کوي او لوستونکے په دې راپاروي چې د خپل هېواد په حالاتو سنجیده غور او فکر وکړي، دا شعرونه ئې وګورئ ـ

د محبت د لاله زار په ګل ورینه زمکه
لمبې لمبې ګولۍ ورېږي خوب به څنګه راشي

دا زمونږ چنار چنار چینې چینې چمن وطن
پورې دې لمبې کړې پرې اسمانه!
دا دې څهٔ وکړل؟"٥

د دغه مجموعې وړومبے نظم "دنیا" دے چې د شر او طاقت ته په کښې سیال خواستونه کوي دې دنیا نه د شر زانګو مهٔ جوړوئ، دا دنیا د ایټم بم په طاقت مهٔ ویجاړوئ ـ د دې دنیا وګړي امن غواړي، مینه غواړي او سکون غواړي ـ په دغه نظم کښې سیال داسې ګویا دے!

"په دنیا حکم چلوونکو خلقو
د ایټم بم طاقت لرونکو خلقو

دنیا زمونږه یو شریک کلے دے
زمونږ په کلي کښې شرمهٔ جوړوئ

د خپل حرص او د هوس په خاطر
ژوند له سنګینه سزا مهٔ ورکوئ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

دنوي ژوند د نوي فکر په تال
د غلامۍ تصور مه ځنګوئ

مونږه خوبونه له تصوير جوړوؤ
زمونږ د لاسه قلم مه غورځوئ

د رنګ او نُور د ښکلا ډکه دنیا
لوګي لوګي فضا کښې مۀ بدلوئ

دا د ګلونو ماشومانو ځانګو
د سرو بارودو په ډېر مۀ اودروئ

دا د نازونو اداګانو نړۍ
د بد رنګۍ په دُړو مۀ خړوئ

سپرے په ګلونو د لمبو چې کوي
داسې جهاز له لارې مۀ ورکوئ

د انساني عظمت نه ډکه دنيا
د غار او غر دور ته مۀ ستنوئ

د ایټم بم طاقت لرونکو خلقو
ځانله پخپله خپل ژوندمۀ لنډوئ [٦]

د امن، ورورولۍ، مينې او خېر دغه غوښتنه هغه په خپل یو بل نظم "تعمیرِنو" کښې هم کوي او په هم دغه نظم کښې د دې آرزو اظهار کوي چې د انساني ټولنې، د پښتون اولس په خاوره او د هغوئ په وجود کوم پرهرونه جوړ دي اوس د دې پرهرونو د ګنډلو وخت دے ـ ښاغلے سیال وائي ـ

د ننګ او پت په غرور ولاړه ګله
په لر او بر کښې دې بهېږي وينې
په ونو غنو غرونو غاړو کښې ژوند
لکه د اوښکې شو د سترګو نه توې
لکه زخمي هوسۍ ترپکې وهي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

د چا په پښو کښي د بمونو پتري
د چا ټټر سُوري سُوري په راکټ
د چا په سر کښي د ګولی زخمونه
د چا په زنه کښي سنګين د ټوپک
د رنګ او نُور د ښکلا ډک مخونه
د ګل بدنو د جبين خالونه
نن د بارودو په لوګو خړ دي
رنګونه ټول د ګلالو زئيړ دي
د ننګ او پت په غر ولاړه ګلا
د درد علاج په تماشو نهٔ کېږي
راشه لړ جاج دي د چمن واخله
په اسويلو او په سلګو نهٔ کېږي
دا لر او بر ابادول غواړي
ژوند به ژوندون ته پارول غواړي
دا تس نس شوے تالا شوے چمن
د نوي سر نه جوړول غواړي

د ننګ او پت په غر ولاړه ګلا
دا پرهرونه به ګنډل غواړي

دا پرهرونه به ګنډل غواړي"

د پښتون په خاوره چې سامراجي قوتونه کومې جنګي تجربې کوي، سيال هغوئ ته وئېل غواړي چې د خدائے د پاره زمونږ په خاوره دغه تجربې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

نوري مهٔ کوئ ــ مونږ ته هم د ژوند حق راکړئ، مونږ هم انسانان یُو، تهذیب لرو، تاریخ لرو، اقدار لرو او خپل کلتوري شناخت لرو ــ سیال وئیل غواړي چې دا ټولې تجربې آخر زمونږ په وطن کښې ولې؟ ــ "زمونږ وطن څهٔ لېبارټري خو نهٔ ده" نومې نظم کښې سیال دغه دردېدلي احساسات داسې بیانوي ــ

"هر یرغلګر خان له راښکلي کرښه
زمونږ د مینې د تاریخ په تندي
هر یو غاصب د بم چاؤدنې کړي
زمونږ د غرونو په ګل ګل سینه کښې
هر هلاکو او چنګېز خان د دور
زمونږ سرونه په نېزو پېرلي
هر یو مغل هر فېرنګي د وحشت
زمونږ په سترګو کښې ازغي ټومبلي
زما د غرونو د دشتونو شکلو
راځئ راپاسئ یو ټپوس چې وکړو
د تهذیبونو د جمهور له دنیا
دا زمونږ سېمه څهٔ مورچه خو نهٔ ده
د اور بټۍ د جنګ اډه خو نهٔ ده
مونږ انسانان یُو مونږ هم امن غواړو
د یرغلګرو د یرغل نه امن
زمونږ وطن څهٔ لېبارټري خو نهٔ ده" [۸]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

"زمونږ په کلي کښې شر مۀ جوروئ" د ښاغلي اکبر سیال یوه بله مجموعه ده چې په کال ۲۰۰۹ء کښې چاپ شوې ده او د شاعر هغه شاعري په کښې خوندي ده چې د ۹/۱۱ د واقعې نه پس شوې ده ـــ په دې مجموعه کښې هم سیال خپلې بنیادي موضوع ته ډېره توجه کړې ده او په علامتي توګه ئې "زمونږ کلے" د خپلې خاورې او وطن د پاره اصطلاح استعمال کړې ده او دغسې ئې د دې آرزو اظهار کړے دے چې زمونږ په خاوره او وطن کښې دې امن او خېر وي، شر او فساد دې نۀ وي ـــ د دې مجموعې د شاعرۍ په حقله ښاغلي ډاکټر خالق زیار خپله رائې داسې څرګنده کړې ده !

> "تر څو چې د سیال د شاعرۍ د ټولنیز اثر تعلق دے، نو هره ټولنه په خپل اندرون کښې د زړو او نوؤ نظریاتو او قدرونو د سوړ یا تود جنګ په حالت کښې وي یوې خوا ته زاړۀ نظریات او قدرونه د دغه وخت حاکمو طبقو ته ګټه رسوي او دغه طبقې ئې ساتنه او پالنه کوي او بلې خوا ته د ټولنیزې ودې په قوانینو یوه اولس پرست دانشور، سازمانونه او سیاسي ګوندونه د دغه نظریاتو او قدرونو خلاف د نوي نظریاتو او قدرونو په مرسته کښې راپاخي او هڅه کوي چې د دغه فرسوده نظام نه خپل اولس خلاص کړي او دټولنې د جنګې ودې د پاره لار هواره کړي،
>
> سیال د دغه اولس پرست دانشورو په قطار کښې ولاړ دے ـــ د ټولنې د مخ په وده او د نوؤ قدرونو طرفدار دے او شاعري ئې ټول په ټوله هم د دغه هدف په لور د خلقو د رابللو نه عبارت ده لهذا ټولنیز اثر ئې په هر لحاظ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32


مثبت دے خدائے دې توان ورکړي چې
خپل دا سفر هم دغسې جاري اوساتي"۔[۹]

په دې مجموعه کښې سیال زیاتې غزلې شاملې کړي دي ۔ څو نظمونه سندرې ځانګړي شعرونه ئې هم په کښې شامل کړي دي ۔ دې مجموعه کښې شامل د دریو مصرعو په یو وړوکي نظم "اختر" کښې سیال د امن غوښتنه داسې کوي ۔

"د حلال شوي پلار ماشـــــــــوم بچي له
راوړه د ځان ســـــــــــــــــره د امن جامې
اختـــــره دا ځل چې راځې کلي ته"[۱۰]

تر دې وخته د سیال وروستۍ مجموعه "په ګل درو دې ورؤل اورونه" په نوم په کال ۲۰۱۰ء کښې چاپ ده چې په کښې غزلې، نظمونه او سندرې شاملې دي ۔ په دغه کتاب کښې د شاملې شاعرۍ د معنوي او موضوعاتي اړخ په حقله د دې مجموعې سریزه نګار ښاغلي ډاکټر حنیف خلیل لیکلي دي چې !

"نو د دغه فکر تر شا هم هاغه مشاهده او عملي تجربه کار کوي کومه چې د سیال د شخصیت برخه ده او د هغۀ په روح او وینه کښې ګډه ده ۔ خو د هغۀ د مینې جذبه هغه وخت کښې په غورځنګ وي کله چې هغه د قام، اولس، خاورې او وطن سره د مینې اظهار کوي ۔ د هغۀ د حساس مزاج او دردمند زړۀ په صداقت هغه وخت باور پوخ شي کله چې هغه په خپله خاوره، خپل اولس د پاره د مینې، امن او ورورولۍ غوښتنه کوي ۔ او دغسې په خپله خاوره خپل اولس د پاره د یو مثالي انساني ټولنې د وجود آرزو څرګندوي ۔ د هغۀ په وطن او اولس کښې چې انتشار وي نو هغه به څنګ نۀ دردېږي ځکه چې د هغۀ خو ټوله

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32

ماخذ تحقیقی مجلہ

سرمایه او د ژوند متاع هم دغه اولس دے"۔[11]

په دغه مجموعه کښې شامل يو نعت شريف چې د مثنوي په هئيت کښې ليکلے شوے دے، سيال پکښې د انساني تاريخ د ټولو نه عظيم انسان، د انسانيت د ټولو نه لوی سفير او د امن د ټولو نه لوی داعي، رحمت اللعالمين حضرت ﷴ مصطفیٰ صلی الله عليه و آله وسلم يادونه کوي او په نعتيه کلام کښې د امن او خېر غوښتنه داسې کوي ـ

"د مدينې نه څي کعبې ته د لښکرو سره
د سپينو ټورو، د نېزو، غشو د زغرو سره

خو ستمګر غوندې مزاج د حکمران نۀ لري
چې دشمن په وينو سور دغه ارمان نۀ لري

هاغه يتيم هاغه مظلوم هاغه غاښ ماتې سړے
هاغه د غېرو په نظر کښې چې ؤ پاتې سړے

هاغه سړے نن د طاقت او دبدبې نشان دے
هاغه سړے دجنګ مېدان ته ددشمن روان دے

د مخ څهره ئې د الله د نُور، د رحم ډکه
د محبت، انسانيت، شعور، د رحم ډکه

پورته اسمان ته په دعا وو ګل ورين لاسونه
د چا په وينو ئې ککړ نۀ کړل حسين لاسونه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

د مینې، امن او انصاف جنډه ئې پورته کړله
د ظالمانو په خلاف جنډه ئې پورته کړله

نو اے د خدائے عظیم انسانه معتبره نبي
زما د دوارو سترګو توره د زړۀ سره نبي

زما په ګل وطن کښې نن یو کربلا جوړه ده
هرخواماتم دے شوراوچغې دي غوغا جوړه ده

په جنازو او جماتونو کښې قتلېږي خلق
د بم د پاسه بم دزېږي او سوزېږي خلق

نو اے په ټولو انبیاؤ کښې بهتره نبي
زما د دوارو سترګو توره د زړۀ سره نبي

زما دي وران وطن له هم د ژوندون زېرے راوړه
زما اولس چې کړي اباد د ژوندون زېرے راوړه

داسي بدلون داسي ژوندون داسي د امن پېغام
چې تسني وسني کړي د ظلم او د جبر نظام

چې دا په وير لړلي خلق لږه ساه واخلي
چې د یو بل نه سرۀ ګلونه په خندا واخلي"۔[۱۲]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

د سیال په دې مجموعه کښې ډېر طویل نظمونه شامل دي چې د ۹/۱۱ د واقعې تصویرکشي کوي ـ د دغه تصویرکشۍ څرګندولو دپاره ضروري ده چې مکمل نظم د نمونې په توګه وړاندې کړې شي ځکه زۀ صرف د یو نظم په پېش کولو اکتفا کوم ـ په کوم کښې چې سیال د خپلې پښتونخوا په خاوره د امن خواهان دے ـ دغه نظم "د پښتونخوا تصویر" کښې سیال د خپلې سیمې تصویرکشي داسې کوي ـ

"رنګونه د سپرلي د ګل غوټۍ د مخ نه جوړ کړه
یو داسې ښکلے مخ د زندګۍ د مخ نه جوړ کړه

راکوز شه د اسمان د ستارو او سیارو نه
یو داغ راله په زړۀ کښې د سپوږمۍ د مخ نه جوړ کړه

وحشت دے کرښې کرښې وینې وینې هر یو مخ دے
مسکے مسکے ګلاب د بې وسۍ د مخ نه جوړ کړه

د علم او هنر د تجربو د فن استاذه
یو خیال له مې پېکر د ازادۍ د مخ نه جوړ کړه

دې تږو تږو سترګو له د حسن جادوګره
جامونه د خمار خمار ځوانۍ د مخ نه جوړ کړه

دا سرې ملالې سترګې او نمکینې سپینې اوښکې
ګلونه د شبنم د لېونۍ د مخ نه جوړ کړه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32



اے پام چې ئې په شـــونډو کښې اور بل د محبت وي
سپین مخ ورله د واورو د غونډی دمخ نه جوړ کـــــــړه

مودې اوشوې د عرش نه تماشه کوي د فــــــــــــــــرش
یه خدایه دا وطن مې د خدائے د مخ نه جـــــــــــــــوړ کړه

زۀ څۀ وکـــــــــــــــړم چې تنده مې په سیند هم نۀ ماتېږي
یو ګوټ راله د سترګو د پیالی د مخ نه جـــــــــــوړ کړه

نرتوب ورله په زړۀ د زمري غونډې پېدا کـــــــــــــــــــــــــــړه
لېمۀ ورله دغـــــــــــــــــــــرونو د هوسی د مخ نه جوړ کړه

یه خیاله ښې ـــــــــــــوه ګـــــــــــــــره
یه جانانه مصـــــــــــــــوره
د ژوند د ناوې کور د غرځنی د مخ نه جوړ کړه"[۱۳]

د اکبر سیال د پښتو په نظمیه شاعری د ۹/۱۱ د واقعې د دلخراشو اثراتو په دې بحث کښې دا خبره واضحه شوه چې سیال په خپله سیمه د امن غوښتنه کوي او هر هغه قوت غندنه کوي کوم د دې امن لاره کښې ستونزې جوړوي حوالې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-32
ماخذ تحقیقی مجلہ

۱ خلیل، حنیف، ڈاکټر، پښتو غزل پر ۹/۱۱ کے اثرات، مشمولہ پاکستانی زبان و ادب پر ۹/۱۱ کے اثرات، ادارۂ ادبیات اردو و فارسی جامعہ پشاور، ۲۰۱۰ء ، مخ ۱۲۷
۲ همدغه ، مخ ۱۲۸
۳ خلیل، حنیف، ډاکټر، پښتو غزل پر ۹/۱۱ کے اثرات، مشمولہ پاکستانی زبان و ادب پر ۹/۱۱ کے اثرات، ادارۂ ادبیات اردو و فارسی جامعہ پشاور، ۲۰۱۰ء ، مخونه ۱۲۹، ۱۳۰
٤ سیال، اکبر، دا پرهرونه به ګنډل غواړي، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۵
٥ ګوهر، سعید، سریزه، مشموله، دا پرهرونه به ګنډل غواړي، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ ۱۹
٦ سیال، اکبر، دا پرهرونه به ګنډل غواړي، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، ستمبر ۲۰۰۵ء، مخ ٤٢، ٤٣
۷ همدغه ، مخونه ٤٤، ٤٥
۸ همدغه ، مخونه ۱۳۷، ۱۳۸
۹ زیار، خالق، ډاکټر، سریزه،مشموله، زمونږ په کلي کښې شر مۀ جوړوئ، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، اکتوبر ۲۰۰۹ء، مخ ۹
۱۰ سیال، اکبر، زمونږ په کلي کښې شر مۀ جوړوئ، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، اکتوبر ۲۰۰۹ء، مخ ۱٦۷
۱۱ خلیل، حنیف، ډاکټر، مشموله، په ګل درو دې ورؤل اورونه، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، دسمبر ۲۰۱۰ء، مخونه ۳۱، ۳۲
۱۲ سیال، اکبر، په ګل درو دې ورؤل اورونه، پښتون کلچرل ایسوسی ایشن اسلام آباد، دسمبر ۲۰۱۰ء، مخونه، ٤١ نه تر ٤٤
۱۳ همدغه ، مخونه ٥٦، ٥٧